دوی د هېڅ اوښ په غاړه کې غاړکې یا ګونګرو پرته له پرې کولو پرې نږدي

له ابو بشير الانصاري رضی الله عنه څخه روایت دی: چې هغه په ځینو سفرونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره و، هغه ویلي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم یو استازی پداسې حال کې ولیږه چې خلک په خپلو استوګن ځایونو کې وو تر څو: « دوی د هېڅ اوښ په غاړه کې غاړکې یا ګونګرو پرته له پرې کولو پرې نږدي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځینو سفرونو کې و، او خلک په خپلو کېږدیو او خېمو کې وو چې شپه به یې پکې تېروله، نو خلکو ته یې یو کس ورولېږه او امر یې ورته وکړ چې د اوښانو په غاړو کې ځوړندې غاړکې پرې کړي، هغه که د لرګي دوه ښاښې وي - یا بل څه وي لکه: ګونګرو او یا څپلې- ځکه چې دوی دا شیان د څارویو په غاړو کې له بد نظر څخه د ساتلو په موخه ځوړندول، نو دوی ته یې د پرې کولو امر وشو؛ ځکه چې دا له هغوی څخه هېڅ شی نشي منع کولی، او دا چې ګټه او تاوان یوازې د الله په لاس کې دي، هغه ذات چې شریک نه لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6761